THE WORLD BANK
IBRD • IDA | WORLD BANK GROUP

# خبري اعلاميه

---

## په افغانستان کې د نړیوال بانک نوی رئیس وټاکل شو

**د ۱۳۹۵ د لړم ۱۲مه، کابل** ـ د نړیوال بانک د پخواني مشر رابرت سام د کاري دورې له پای ته رسیدلو څخه وروسته، **شوبهم چوهدري** په افغانستان کې د نوموړي بانک د رئیس په توګه وټاکل شو، او د لړم په ۱۱مه نېټه یې په کار پیل وکړ.

**شوبهم** د هندوستان هیواد تبعه دی، چې له نړیوال بانک سره یې په ۲۰۰۴ کال کې په همکارۍ پیل وکړ او وروسته له هغه وتوانید چې په یو شمیر مشرتابه مسولیتونو کې دنده ترسره کړي. نوموړي خپل وروستۍ وظیفوي مسوولیت په نړیوال بانک کې د لوی اقتصاد او د نړیوال تګلارې د مالي مدیریت د مسوول په توګه د سویلي آسیا د هیوادونو په حوزه کې پای ته ورساوه.

*" د ویاړ ځای دی چې په افغانستان کی یم او دغه لوی هیواد کې د خدمت جوګه ګرځم،"* د نړیوال بانک رئیس **شوبهم** د دغو خبرو په څرګندولو سره زیاته کړه: *"نړیوال بانک خپل د اوږد مهالي مشارکت او همکارۍ په ترڅ کې توانیدلی دی، چې د میلیونونو افغان وګړوته د ژوند په ټولو برخو مرسته او ملاتړ وکړي. تمه لرم، چې په کابل او د نړیوال بانک په نوروڅانګو کې د همکارانو په مرسته وتوانیږم له دولت ، نړیوالو پراختیایي مرسته کوونکو ، مدني ټولنې، خصوصي سکتور او نورو کاري شریکانو سره د عامه رفاه او بیوزلۍ د کچې د ټیټولو په موخه هراړخیزه اړیکې ټینګې او پیاوړې کړم."*

د ۲۰۱۲ کال د اګست څخه تر ۲۰۱۴ کال، جون پورې، **شوبهم** د فقر د لړوالي او د ختیځې آسیا او آرام سمندر ته څیرمه هیوادونو د اقتصاد د مدیریت دیپارتمنت، د نړیوال بانک د کاري ټیم د مدیر په توګه په واشنګتن کې، دندې ترسره کړي. تردې د مخه نوموړی د اندونیزیا د هیواد د نړیوال بانک په دفترکې د ارشد اقتصادی کارپوه په توګه دندې ترسره کړې دي.

وړاندې له هغه چې ښاغلی **شوبهم** له نړیوال بانک سره په کار پیل وکړي، نوموړی د یوې لسیزې لپاره د امریکې د نیویارک په کولمبیا پوهنتون کې د اقتصاد پروفیسور او د دغه پوهنتون د اقتصادي او سیاسي پراختیا د پروګرام مشري په غاړه درلوده. د نوموړي تحقیقاتي کړنې په بیلابیلو ژورنالونو کې ، په تیره بیا د امریکې د اقتصاد څیړنه، د اقتصادي مطالعاتو څیړنه ، اقتصادي سنجش، د دولتي اقتصاد ژورنال او په نړیوال اقتصاد ژورنال کې چاپ او خپاره شوي دي. دا څیړنې د پراختیایي اقتصاد په سیمو کې، له بیوزلۍ او زیانمننې سوداګریز چاپیریال او پانګه اچونې، د مشارکتي بودیجه جوړولو او غیر متمرکز مالي چاپیریال شامل دي. **شوبهم** خپل لیسانس درجه د هاروارد پوهنتون څخه او خپله دوکتورا یی له پرینستون پوهنتون څخه د اقتصاد په برخه کې ترلاسه کړې دي.

**په افغانستان کې د نړیوال بانک په هکله لنډ معلومات:**
په افغانستان کې د نړیوال بانک ګروپ اوسنۍ کړنې د ۲۰۱۷ تر۲۰۲۰ کلونو په ترڅ کې د هیواد لپاره د مشارکت د چوکاټ د ستراتیژۍ تابع دی. په ورته مهال، نړیوال بانک د افغانستان د بیارغونې صندوق اداري چارې، چې په هیواد کې د نړیوالو مرسته کوونکو تر ټولو واحد مرسته کوونکی صندوق بلل کیږي، په غاړه لري. د نوموړي مشارکتي چوکاټ لپاره اړین مالي ملاتړ ټاکل شوې وروسته له هغه مشخص شي، چې د روان میلادي کال په ډسمبر میاشتې کې د نړیوال بانک د نړیوالې پراختیایي ادارې د تمویل کوونکو غونډه د بې وزلو هیوادونو سره د مرستې په هدف ترسره شي. دا په داسې حال کې ده، چې د دغه مشارکتي چوکاټ د تمویل لپاره د افغانستان د بیارغونې صندوق مالي ملاتړ منظور شوی دی. نړیواله مالي اداره د نړیوال بانک د خصوصي سکتور څانګې په توګه هوډ لري ترڅو د مشارکت د چوکاټ د لومړي پړاو د تطبیق په ترڅ کې د خپلې پانګې اوسنې کچه له ۵۳,۹۲ میلیون امریکایي ډالرو څخه ۸۰ میلیون ډالرو ته اوچت کړي. همدا راز د څو اړخیزو پانګونو د تضمین اداره د نړیوال بانک ګروپ د سیاسي ګواښونو د بیمې کوونکي څانګې په توګه ژمنه ده، ترڅو د مالي ، صنایعو، کرهنیزو محصولاتو د سوداګرۍ، خدماتو او بنسټونو په سکتورونو کې د اړتیا وړ ملاتړیز بهیر ته پراختیا ورکړي.

په افغانستان کې د نړیوال بانک د فعالیتونو په هکله بشپړ معلومات په لاندې ویب پاڼو کې ترلاسه کولۍ شئ

http://www.worldbank.org.af
www.ifc.org
www.miga.org
www.artf.af